د تېلو په بيو کې د امريکا له استثمار او ګټې اخستنې څخه، يوازې خلافت کولی شي امت وژغوري



**خبر:**

په دې وروستيو کې رسنۍ پرېمانه راپورونه او خبرونه خپروي، چې د تېلو بيې به ډېر ژر يو بېرل سل ډالرو ته پورته شي او يا ښايي تر دې هم لوړې شي (oilprice.com). ټرمپ په ډېره تنده لهجه له سعودي عرب څخه غوښتي، چې توليد زيات کړي ترڅو د خامو تېلو د لوړو بيو انډول پرې وساتي.

**تبصره:**

تېل په نړيوال بازار کې د نورو سوداګريزو توکو په څېر نه دي. د تېلو بيې په زياته کچه د عرضې او تقاضا بدلون ته په کتو سره حساسې او بې ثباته دي. له ايران سره له شوي اټومي تړون څخه د امريکا وتل او د ايران پر تېلو د امريکا له لورې بنديزونه لګېدل ــ له نوامبر څخه پلي کېږي ــ يو لړ اندېښنې را ولاړې کړې دي، چې تېلو ته اوسنۍ تقاضا به په نږدې راتلونکې کې پوره نه شي. اوس مهال ايران د ورځې دوه ميليونه بېرله خام تېل چين، هند، ترکيې او نورو هيوادونو ته صادروي. د امريکا بنديزونه به مارکيټ ته د دې دوو ميليونو بېرلو تېلو صادرات کم او يا په ټپه ودروي، څکه نو اندېښنې زياتې شوي چې تقاضا به تر عرضې ډېره لوړه شي (oilprice.com). په دې اړه هم شکونه شته چې سعودي عربستان او د اوپک(OPEC) نور غړي لکه عربي متحده امارات او کويټ به هم ونه شي کولی دا کسر پوره کړي. د ايران پر وړاندې بنديزونه او د کسر په له منځه وړلو کې د اوپک غړيو هيوادونو پاتې راتلل، دوه هغه لاملونه دي چې د تېلو د بيو د لوړېدلو لامل کېدای شي.

د دې لپاره چې په نومبر کې د منځ مهاله ټاکنو پر مهال پر امريکايي لګښت کوونکو د تېلو د لوړو بيو اغېز را کم شي، ټرمپ پر سعودي عربستان او د اوپک پر نورو غړيو هيوادونو فشار زياتوي، ترڅو د تېلو توليد زيات کړي. په ورته وخت کې د ټرمپ اداره پر چين، هند او ترکيې زور اچوي ترڅو يې له ايران سره اړيکې ترينګلي شي او د خامو تېلو لپاره د نورو ځايونو په لټه کې شي. پر همدې بنسټ د امريکا پاليسي دا ده چې د خامو تېلو پر بيو د

اغېز شیندلو له امله د ایران مخه ونیسي. پر دې سربېره، امریکا په کور دننه کې د تېلو د چټکې ودې په اړه پټه خوله ده او د تېلو د لوړو بیو له امله یې ستره ګټه کړې.
په ټوله کې، امریکا د مسلمانانو د تېلو زېرمې استثمار کړې دي، ترڅو د ایران مخه پرې ونیسي، د ایران او سعودي تر منځ درز او د نظرونو بېلوالی رامنځته کوي، د تېلو بیې لوړوي، خپل د تېلو کورني صنعت ته وده ورکوي او امریکایي رایه ورکوونکو ته د سعودي د تېلو پر مټ هوساینه راولي. امریکا کولی شي چې دا ټولې چارې تر سره کړي، ځکه د اسلامي نړۍ حکام د امریکا تر واکمنۍ لاندې دي. اوس فکر وکړئ چې ریښتنی راشده خلافت به د تېلو پر مټ په سیاسي ډګر کې څه ترلاسه کړي ؟ لمړی، خلافت  به له تېلو څخه په لاس راغلي عایدات د داخلي زېربنا په جوړولو ولګوي، په چټکۍ سره به د اقتصاد ټولې برخې صنعتي کړي او د دولت وګړي به ډاډمن کړي، چې له دوی څخه به بشپړه پالنه کېږي. دویم، خلافت به حربي ملتونو لکه امریکا، هند، ځینې اروپایي هیوادونو او یهودي بنسټ ته د تېلو ټول صادرات ودروي. درېیم، خلافت شایي په ټاکلې برخه کې ځینې امریکایي ایالتونو ته تېل په دې شرط ورکړي، چې له امریکایي اتحادیې څخه بېلوالی غوره کړي. د بېلګې په توګه خلافت شایي یوازې جرمني ته تېل ورکړي او په دې سره به یې موخه د اروپایي اتحادیې تر منځ درز رامنځته کول وي. څلورم، هر هغه هیواد چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپکاوی کوي، سمدستي به د تېلو له بندیز سره مخ کېږي، تر هغې چې پښېماني غوره کړي او بیاځلې خپلو کړو وړو ته بدلون ورکړي.
یا په بله اصطلاح، که د اسلامي امت د تېلو ثارنه د خلافت له لورې کېدای، نو ډېر څه به د اسلام د ویاړ په موخه ترسره شوي وای. څه به پېښ شي که خلافت خپله ثارنه تر هغو نورو سرچینو پورې وغځوي، چې زیاتې ارزښتمندې دي؛ خلافت به یې په راس کې وي او دغو سرچینو ته به نړۍ، په بې سارې توګه اړتیا ولري.
دا ټول هغه څه نه دي چې امت یې نه شي تر لاسه کولای او نه هم دا کومه افسانوي پاچاهي ده. دا هر څه ممکن او عملي دي؛ په هر حال امت حتمی باید د راشده خلافت د بیا ځلې تاسیس کولو موضوع په خپل لاس کې واخلي او نور هر څه بېرته پر خپل ځای پاتې شي.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾**

[الانفال:۲۴]

*ژباړه: اې ایمان راوړنکو! د الله سبحانه تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایاست، چې کله پیغمبر  صلی الله علیه وسلم تاسې ته د هغه شي په لورې بلنه درکړي چې تاسې ته ژوند بښونکی دی. پوه شئ چې الله سبحانه تعالی د انسان او د هغه د زړه تر منځ حایل دی او د هغه لوري ته به تاسې ور غونډ کړای شی.*

**حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**لیکوال: عبدالمجید بهاتي**

**ژباړن: عبدالله لطفي**